پوهندوی آصف بهاند

# په وجود او روح ځواکمن سړی هم ولاړ

## (د پوهاند احمدشاه زغم مړینه)

دا دی بیا زموږ د پوهې او فرهنګ پر بن کې د وير څپې خپرې شوې، پوهاند الحمدشاه زغم مو له لاسه ورکړ.

د شپېتمې لسيزې د پيل کلونو کې مې د لومړي ځل لپاره وليد، داسې درناوی به يې کاوه، چې ما فکر کاوه چې دی مو د خپلې کورنۍ کوم کشر غړی دی، خوله ـ له خدا ډکه، ارام او ځيرک سړی و.

جګه ونه، پراخې اوږې او لکه جهان پهلوان له زوره ډک؛ خو مات او کمين انسان، برخورد صميمي... په ټوله هغه موده کې چې له ده سره په پښتو څانګه کې په تدريسي چارو بوخت وم، زما نه يادېږي چې له ده نه به مې يوه بده خبره اورېدلې وي، تل يې داسې چلن کاوه چې دی تر ټولو کشر وي او د هر استاد د خدمت له پاره به ولاړ و.

دا له وجود او روح نه ځواکمن سړی کومې نا پېژاند مرض راونيو او داسې يې سره ونښېځه چې د افغانستان څه چې، د جهان طبيبان يې هم په مداوا پوه نه شول، اوس د تل لپاره کډه شو او وروسته تر دې له موږ سره نور فزيکي شتون نه لري.

له ما سره د استاد زغم د رسمي دندې د همکارۍ او د شخصي ملګرتوب ډېرې خاطرې خوندي دی. زه چې هر ځل افغانستان ته لاړم، زنګ به مې ورووهه چې چېرې يې، که به په کور کې و، مخامخ به کور ته ورغلم، ټوله ورځ به يې کېنولم، راته ويل به يې چې:

تلی نه شې،

دا ورځ به له ماسره تېروې.



له ښي اړخه استاد احمد شاه زغم، آصف بهاند او استاد بختمير وزيری
د ۲۰۱۵ ام کال د د اپريل دولسمه، جمال مېنه، د استاد احمد شاه زغم کور.

اوس به د استاد زغم د پېژندنې لپاره د ده بیوګرافۍ ته سر ورښکاره کړو او بیا به د ده فرهنګي فعالیتونه او لیکلي اثار یاد کړو.

پوهاند احمدشاه زغم د وطن د نوي نسل د روزلو په څنګ کې د فرهنګ په دغو برخو کې هم فعالیتونه کړي وو:

ــ لیکوال و،

ــ څېړونکی و،

ــ ژورنالیست و،

ــ ژباړونکی و،

ــ شاعر و.

او په یادو برخو کې اثار هم ورنه پاتې دي.

پوهاند زغم په نوي نسل داسې مین و، لکه په خپل اولاد، پر وطن او خلکو باندې حاکمو ناخوالو ډېر زروراوه، د ناروغۍ فشار، پر وطن او خلکو باندې راغلو بدو حالاتو زړه، ورودراوه او د خدای دربار ته یې د عرضو لپاره ولېږه.



د استاد زغم د مړینې خبر د برېښنا په څېر په ځو شېبو کې د نړۍ هر ګوټ ته ورسید او په میډیا کې په بیړه راڅرکند شو. تاند لکه تل قدم وړاندې کړ او وروسته تر فیسبوک، لومړی ادرس و چې د پوهاند احمد شاه زغم د مړینې خبر یې خپور کړ، د تاند د خبر بشپړ متن دا دی:

«د پوهنتون استاد پوهاند دوکتور احمد شاه زغم ومړ
تاند: (یک شنبه، د دلوې ۳۰ مه) د کابل پوهنتون د پښتو ادبیاتو استاد پوهاند احمد شاه زغم د ورپېښې ناروغۍ له امله ومړ.

دکتور زغم د حاجي رازمحمد زوی په ۱۳۳۵ کال کې د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ په خالداري کلي کې زېږېدلی و.

هغه لومړنۍ زده کړې په ۱۳۴۲ کال کې د خواجه مسافر به لومړني ښوونځي کې پیل کړې، وروسته د خېلي ولسوالۍ د شهید عبدالرازق لېسې ته لاړ او په ۱۳۵۶ کال کې له نوموړې لېسې فارغ شو.

پوهاند زغم په ۱۳۵۷ کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي کې د لېسانس دورې زده‌کړې پیل کړې او په ۱۳۶۱ کال کې د نوموړي پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شو.

نوموړی په ۱۳۶۲ کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د علمي کادر غړی شو.

پوهاند زغم په ۱۳۶۷ کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه د ماسټرۍ سند ترلاسه کړ. همدا راز پوهاند صاحب زغم په ۱۳۹۶ کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د دکتورا زده‌کړې پایته رسولې دي.

پوهاند زغم د استادۍ تر څنګ لیکوال، څېړونکی، ژورنالیست، ژباړونکی او شاعر هم و.

معاصره لیکوالي، پښتو عرفاني او تصوفي ادبیات، پښتو فلکوري ادبیات، د شعر ښکلاییزه برخه، پښتو چاربیته، په شپېتمه لسیزه کې د افغانستان پښتو شعر ته کتنه او رحمان بابا یو صوفي او عارف شاعر وو؟ د نوموړي مشهور چاپ شوي اثار دي.»

زه لکه تل هڅه کوم د هغو قلموالو، استادانو او فرهنګیانو په باب بشپړ معلومات وړاندې کړم چې نور له موږ سره نشته. د پوهاند زغم بیوګرافي پخوا ما نه وه لیدلې چې خپره شوې وي. ما یو کال مخکې هڅه وکړه چې د ده په ژوند کې، د ده پر ترسره کړو فرهنګي کارونو څه ولیکم، په همدې نیت مې د زغم صاحب د بیوګرافۍ لټه وکړه، د ښاغلي افضل شیرینزوی په مرسته مې ــ چې له استاد سره خپلوي لري ــ د استاد زغم د بیوګرافۍ لاندې متن ترلاسه کړی و چې زه یې پرته له لاسوهنې دلته خپروم:

احمدشاه زغم د حاجی رازمحمد نیازی زوی په ۱۳۳۶هـ ش کال د کابل ولایت پغمان ولسوالی د بلسان د ګدلخیلو کلی کې په یوه ببوزلي، بزګره کورنۍ کې زېږدلی دی.

ابتدایي زده کړی یې د یادې ولسوالی د خواجه مسافر، د هغه وخت ابتدایی ښوونځی کې ترسره کړې دي، تر هغه وروسته یې داروابناد داود خان په وخت کې له ابتدایی دورې څخه متوسط دورې ته د کانکور ازموینې تر بریالي سرته رسولو وروسته، په همدغه ښوونځي کې د منځنۍ دورې زده کړې پیل کړې او له نهم صنف څخه تر فراغت وروسته، د پغمان ولسوالی د هغه وخت عبدالرزاق شهید په لیسه کې زده کړې، په بریالیتوب سره ترسره کړی.

په ۱۳۵۷هـ ل کال کې له لېسې څخه تر فاراغت وروسته، کابل پوهنتون ته د کانکور له لارې د لوړو زدکړو چانس ترلاسه کړ او د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی پښتوڅانګه کې یې د لیسانس د دورې څلورکلنی زده کړې پیل کړې.

په ۱۳۶۱ کال هـ ش کال لیسانس سند ترلاسه کړ او تر فراغت وروسته یط په۱۳۶۲ کال د سرطان په ۲۶مه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی د پښتوڅانګې د نامزاد پوهیالی په توګه ومنل شو.

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه یې د تدریسی غړي په توګه کار پیل کړ. د تدریس په دوره کې یې، د تدرسی سره مل ځینې نور علمي، ادبي، اجتماعي او ژورنالیستیکی فعالیتونه ترسره کړي دي.

استاد احمدشاه زغم د خپلې تدریسي دندې تر څنګ په نورمال ډول د خپلو علمي ترفیعاتو له پاره د لاربنود استادانو تر لاربښونې لاندې په منظم ډول د خپلو علمي ترفیعاتو کارونه په خپل وخت ترسره کول.

په ۱۳۶۴ هـ ش کال کې یې د ماسترۍ دورې زده کړې پیل او په ۱۳۶۷هـ ل کال کې یې د ماسترۍ دیپلوم ترلاسه کړ.

په ۱۳۶۸ هـ ل کال کې یې د عسکرۍ مقدسې دندې د ترسره کولو لپاره د کورنیو چارو وزارت له لارې د هغه وخت باختر آژانس په نظامی شعبه کې د خبریال په توګه علمي او ادبي فعالیتونه پیل کړل.

د پوهنتون د علمي کارونو ترڅنګ یې د ۱۳۶۵ هـ ل کال څخه تر۱۳۷۰ کلونو پورې په باختر آژانس، پښتو، درې داخلي ریاست نظامی شعبه کې او همدارنګه رادیو افغانستان په ځینو ادبي پروګرامونو کې برخه اخیستې ده او ژونالیستیکی کار ته یې تر ۱۳۷۱کلونو پورې په بېلابېلو علمي او ژورنالیستیکی ادارو کې دوام ورکړی. د پلوشې په اخبار، کابل مجلې او د اکاډمی د زیري په اخبار کې یې لنډ او اوږده مطالب خپاره کړي دي.

په پوهنتون کې یې د نورو مضامینو د تدریس تر څنګه دا مضامین تدریس کړي دي:

ـ فلکلوري ادبیات،

ـ عرفاني ادبیات،

ـ لیکوالی .

په ۱۳۹۴ کلونوکې یې د کابل پوهنتون پښتو څانګې د «پی، ایچ، دی» زده کړې پیل کړې چې دغه دوره یې هم په بریالیتوب سره پایته ورسوله.

د ژوند تر پایه پورط په پښتو څانګه کې د پوهاند په توګه تدریسي او تحقیقي کار ته دوام ورکړ .

د استاد پوهاند احمدشاه زغم د ځینو اثارو نوMونه په لاندې ډول دي:

۱ ــ د جمعه ګل عیسی خیل ژوند او افکار (مونوګراف)،

۲ ــ پښتوچاربیته، درسي کتاب،

۳ ــ تصوف په پښتو ادب کې، درسي کتاب،

۴ ـ پښتو فلکلوري ادبيات، درسي کتاب،

۵ ـ معاصره ليکوالي، درسي کتاب،

۶ ـ پښتو عرفاني ادبيات، درسی کتاب او په لسګونو چيپتره.

دغه راز د پوهاند زغم اته ويشت (۲۸) علمي څېړنيزې مقالې، په علمي مجلو کې خپرې شوې دي.

د ده په قلم د ژباړل شوو اثارو نومونه دا دي:

ـ عمومي روانشناسی د جيمزآلن اثر،

ـ زموږ کمزوري ټکي، د کينت آپن اثر،

ـ اراده،

ـ بريالیتوب.

د همدې مقالې بر خاکه مې کار کاوه چې له کانادا څخه استاد محمد معصوم هوتک د استد زغم د مړينې خبر د يوه عکس په رالېږلو راسره شريک کړ:

زمانه چي پر مدار د کينې راسي
د ادب پر منارو تکي پرېباسي
په ډېرې خواشينۍ سره چي زموږ وياړلي او منلی
استاد پوهاند دوکتور احمد شاه زغم وفات سو؛ انا
لله و انا اليه راجعون.
استاد نهايت مهربانه، زړسوانده او قدردانه شخصيت
وو؛ پر ګور دې نور وي.
استاد ته دعا وکئ، الله دې وبخښي؛ جنت دې ځای
سي. آمين




ما سمدلاسه زنګ ور وواهه د زغم پر مړينه مو خواشيني وښودله، ما ورته وويل چې د استاد زغم پر ژوند، زدکړو او علمي کارونو باندې مې د يو څه ليکلو هوډ کړی دی او پر بيوګرافۍ يې همدا اوس کار کوم. استاد هوتک ويل دا خو ښه کار دی، که ما هم څه پيدا کړل دروبه يې لېږم. څو شېبې

وروسته یې د ښاغلي ګل افضل ټکور د «دا لیکوال او دا څېړې» د هغو مخونو عکسونه را ولېږل چې د استاد احمد شاه زغم بیوګرافي په کې راغلي وه.
(ټکور افضل، دا لیکوال او دا څېړې، لومړی ټوک، د چاپ او خپروني دولتي کومیټه، ۱۳۶۶ کال، ۴۳۸ ـ ۴۳۹ مخونه)

زه هماغه متن د عکس په بڼه تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم:



ویښ

احمد شاه ویښ د حاجي رازمحمد زوی دی. په ۱۳۳۷ هـ ش کال کې د کابل ولایت د پغمان د ولسوالۍ د خالدارۍ پلسان په کلي کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د خواجه مسافر په لومړنۍ ښوونځي کې پای ته ورسولې او منځنۍ زده کړې یې د پغمان په لیسه کې بشپړې کړې. وروسته د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې شامل شو. په ۱۳۵۸ کال کې یې د دغه پوهنځي پای ته ورساوه او د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې د پښتو ژبې استاد شو تر اوسه پورې په دې وظیفه کې پاتې دی.

احمد شاه ویښ د ۱۳۶۲ هـ ش کال څخه را په دې خوا شعر وایي اکثر غزل لیکي. په دغه لنډه موده کې یې یو شمیر شعرونه د هېواد په مطبوعاتو کې هم خپاره شوي دي. تر اوسه یې د شعرونو کومه ځانګړې مجموعه نه ده چاپ شوې.

- ۴۳۸ -

د شعر نمونې یې:

داو سیلو حیا

لکه پتنګ چې په لمبو سوځي ځان
داسې مې زړه ستا په لیدو سوځي ځان
شومه د تا په ځان خبر نه یمه
د شهید وینې په ډېوو سوځي ځان
د سپیڅلو دا لیونی کاته مې
په حیا تاکو او سیلو سوځي ځان
د وفا دا ره ست په طمع یې یما
د زړه پولې مې په چاودو سوځي ځان
نظره ویښ نه کړې ویده قسمت مې
سترې خاطر مې په تو پو سوځي ځان
د وجود ونه مې شوه و چه ګلې
لکه جامې په لیو تو سوځي ځان
وینه د زړه په سودا نه شوه رضا
پاڅه قصاو نه په لمرو سوځي ځان

د حسن شرابي

ګمخو کې ستا د یاد چې مې تن خیال و زنګېده
زانګو کې مې د هیلو یو هلال و زنګېده
انځور مې شو د سترګو په پردو کې ستا تصویر
په هسک د خاطرو کې مې مشال و زنګېده
په ضمیر د امیدو کې مې سلګۍ وې سرګردانې
د هجر په څپو کې تن وصال و زنګېده
د طمعې توري شپې کې ستا د حسن ستوری و څوت
دو څت د دار په څپو کې یو کمال و زنګېده
کوم سوز زړګی احمد ستا د شعر په لیمو کې
تندی یا ندی د یار چې مې سور خال و زنګېده

- ۴۳۹ -

دغه راز د پوهاند زغم د مړینې په پار د کابل پوهنتون د پښتو څانګې د فیسبوکپاڼې د تسلیت پیام په ترڅ کې هم د استاد زغم یوه لنډه بیوګرافي اېښودل شوې ده چې دلته یې رااخلم:

«د خواشینی او غمشریکی پیغام:

په ډېرې خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړ چې د پښتو ژبې ویاړلي استاد او خدمتګار پوهاند صاحب احمد شاه زغم د ژوند پور پرې کړ.

ارواښاد پوهاند دکتور احمدشاه زغم د حاجي رازمحمد زوی په ۱۳۳۵ کال کې د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ د خالداري کلي په یوه متدینه او علمدوسته کورنۍ کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په ۱۳۴۲ کال کې د خواجه مسافر به لومړني ښوونځي کې پیل کړې، وروسته د خپلې ولسوالۍ د شهید عبدالرازق لېسې ته لاړ او په ۱۳۵۶ کال کې له نوموړې لېسې فارغ شو. پوهاند صاحب احمدشاه زغم په ۱۳۵۷ کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي کې د لېسانس دورې زدهکړې پیل کړې او په ۱۳۶۱ کال کې د نوموړي پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شو. په ۱۳۶۲ کال کې د

کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د علمي کادر غړی شو. مرحوم استاد په ۱۳۶۷ کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه د ماستري سند ترلاسه کړ. همدا راز پوهاند صاحب زغم په ۱۳۹۶ کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د دکتورا زده‌کړې پایته رسولې دي.

پوهاند صاحب زغم د پښتو څانګې یو پیاوړی او نوموتی استاد و. نوموړی په ۱۳۸۵ لمریز کال کې د کابل پوهنتون د ریاست په وړاندیز د پښتو څانګې آمر وټاکل شو، چې د استادۍ تر څنګ یې ورسپارل شوې دنده په ښه توګه ترسره کړه. پوهاند صاحب احمدشاه زغم په ۱۳۹۴ کال کې د علمي خدمت مودې په پوره کولو سره د پوهاند علمي رتبه ترلاسه کړه.

پوهاند صاحب زغم د دې تر څنګ چې یو تکړه او ژبور استاد و تکړه لیکوال، څېړونکی، ژورنالیست، ژباړونکی او شاعر هم و. نوموړي د خپل علمي خدمت پر مهال ګڼ آثار پنځولي دي چې ځنې یې ناچاپ او ځینې بیا د چاپ په ګاڼه سمبال شوي دي .معاصره لیکوالي، پښتو عرفاني او تصوفي ادبیات، پښتو فلکوري ادبیات، د شعر ښکلاییزه برخه، پښتو چاربیته، په شپېتمه لسیزه کې د افغانستان پښتو شعر ته کتنه او رحمان بابا یو صوفي او عارف شاعر وو؟ هغه اثار دي چې د پښتو ژبې او ادب مینه والو ته یې ډالۍ کړي دي. د دې تر څنګ پوهاند صاحب احمد شاه زغم د بېلابېلو مجلو او ژورنالونو لپاره لسګونه علمي ـ څېړنیزې مقالې هم لیکلې او خپرې کړې دي.

که څه هم درونـد استاد له اوږدې مودې راهیسې په یوه خطرناکه او ځوروونکې ناروغۍ اخته وو، خو سره له دې یې هم خپلو علمي فعالیتونو ته ادامه ورکوله. په خورا سختۍ کې به خپلو ټولګیو ته حاضرېده او د دې وطن بچیانو ته به یې تدریس کاوه.

پوهاند صاحب عالم او فاضل شخصیت و. هغه که له یوې خوا ددې وطن یو ویاړلی علمي کادر و، خو له بلې خوا په شخصي لحاظ یو عیار او بې جوړې ملګری و. هغه زده کوونکو ته د اولاد په سترګه کتل، په خوږو خبرو او ځانګړې لهجه یې د دوی د تربیې هڅه کوله. د استاد له هر مجلس یو څه زده کېدل، د هغه هېڅ کیسه له پیغام خالي نه وه او هېڅ مجلس یې بې روزنې نه و. له استاد د هغه هر محصل پرېمانه خاطرې لري، خوږې خاطرې او داسې یادونه چې هم به یو درس وي او هم به د دې اوږده سفر د لارې مشالونه.

د استاد بېلتون د پښتو ادب کورنۍ ته سخت او نه جبرانېدونکی دی، خو څه ښه وایي هر ګز نمیرد آنکه دلش زنده شد به عشق. د استاد یاد به په کتابونو، مقالو او لیکنو کې زموږ په زړه کې وي. هغه به هېڅ وخت د پښتو ادب لرغوني کورنۍ ته په ابدي سفر تللی استاد نه وي، بلکې پوهاند صاحب احمد شاه زغم به یو تلپاتې او ځلانده نوم وي.

دا غم نه یوازې پښتو څانګې بلکې د پښتو ژبې هر لیکوال او هر لوستي ته درونـد او نه جبرانېدونکی دی، موږ د استاد له درنې کورنۍ سره په دې غم کې ځان شریک بولو، د هغه سپېڅلې روح ته دعاګاني کوو او نوموړي ته د جنت الفردوس استدعا کوو.

پر ګور یې نور

یاد یې تلپاتې

لار یې روښانه

## اناالله و انا اليه راجعون»

د استاد پوهاند زغم پر مړينه باندې د څو تنو فرهنګيانو او د ده د دوستانو د خواخوږۍ پيامونه:

محمود مرهون:

«زغم نوره و نه زغمل او اوسپنيز انسان را و نړېدئ
دغه ناجوړي که پر بل هر چا تېرېدلای په لومړيو څو ورځو کي يې واژه مګر دی يوازې خپل زغم، حوصلې او خدای ج باورۍ و ساته نن يې پور پرې کړ او په حق و رسيدئ پوهاند دکتور احمدشاه زغم له اوږدې ناجوړۍ وروسته پور پرې کړ او ابديت ته و کوچيدئ استاده پر لوی رب دې سپارم نور الفاظ را خلاص سول.»

محبوب شاه محبوب:

«زما بې وسه او رنځوره استاده روح دې ارام اوسه، تر اخره چا لاس در نه کړ, د بې قدرو په دې لوی وطن کې هيچا ستاسو مرسته ونه کړه.
اوس ارام ويده شه، تر ابده ويده شه او له بې قدره ملته خپل خدای ته ښې ګيلې وکړه.
روح دې ښاد»

محمد اسماعيل يون:

«استاده پر مخه دې ښه ، لاره دې روښانه!

يو وخت يې تخلص ( ويښ ) و، د خپل ولس د ويښتابه لپاره يې بېدريغه هلې ځلې وکړې ، خو د روزګار تجربو ورته وښودله چې پر ابدي خوب د ويده قوم راويښول اسانه کار نه دی ؛ پوره اوسېله او زغم غواړي، نو بيا يې د ( زغم ) لنډ نوم د ځان لپاره غوره کړ. نږدې نيمه پېړۍ يې فرهنګي مزل وکړ ، په دې بهير کي يې ډېر دردونه او کړاوونه وزغمل، خو د ټينګ هوډ خاوند و، له روزګاره يې شکايت نه کاوه. په تېرو څو کلونو کي رنځونو ډېر وکړاوه، يو مقاوم سړی و، د سختې ناروغی په مقابل کي يې سخت مقاومت وکړ، څو ورځې وړاندې د پښتو څانګې استادان په ډله ييېز د استاد زغم پوښتنې ته ورغلو ، دی سره له دې چې سخت ناروغ و، دردونو سخت ځوراوه، خو د خپلې ناروغی پر بستر يې د خپلې دردونو کيسه و نه کړه ، دلته يې هم د خپل هېواد د حالاتو په باب بحث کاوه؛ څنګه به شي ؟ حالات به ښه شي کنه لا به خراب شي ؟ هسې نه چې تر دې هم بتر حالات راشي او پر دې حال هم شکر و کاږو؟ استاد د تجربو خاوند و ، د نظامونو د بقا او امحا څو مسلسلې تجربې په خپلو سترګو ليدلې وې ، نو ځکه خو تر خپل حالته د هېواد پر حالاتو زيات ځورېده.

پر ۱۳۶۷ لمريز کال چې زه د کابل پوهنتون د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل شوم، نو استاد احمدشاه ويښ (زغم) مې د لومړنيو استادانو له جملې څخه و، هغه وخت استاد ډېر ځوان و، په تدريسي چارو کې يې د افهام او تفهيم ښه ځواک درلود. څلور کاله وروسته زه هم په همدې څانګه کې استاد شوم، پوره پينځه دېرش کاله مې له استاد زغم سره په دې څانګه کې د يوې کورنۍ د غړو په شان تېر کړل، په دې بهير کې مې هېڅکله هم له استاد زغمه کومه داسې ترخه او تروه خبره وانه ورېدله چې زه پرې د ستړيا احساس وکړم. په وروستيو کلونو کې چې استاد سخت ناروغ و، نو له کوره به يې پښتو څانګې ته ځان سره وچه ډوډۍ او پرهېزانه راوړله ، کله چې به غرمه زه هلته وم ، نو ده به خپله ډوډۍ ما سره نيمه کړه، که ما به هر څومره د نه خوراک ټينګار وکړ، نو ده به ويل که

غوارې چې دا ډوډۍ زما له ستوني تېره شي او خوند ترې واخلم نو حتمي به يې خورې، د استاد د مهربانه لاسونو کورنۍ ډوډۍ ډېره خوږه وه، خو نن چې د استاد جنازه وه، زه له خپل استاده ډېر لرې وم ؛ د استاد جنازه کې مې ګډون و نه کړای شو، د هغه د جنازې بازو ته مې اوږه ور نه کړای شوه، د هغه وروستی دیدن مې نصیب نه شو. دا نو یو ډېر دردونکی حالت دی .استاده پر مخه دې ژېړې ګلونه! پر دې هم باوري یم چې خپل رب ته به د خپل ولس د رنځور حالت تصویر وړاندې کړې او د مهربانۍ هيله به هم ترې وکړې.»

سيد نظيم سيدي:

«زه زغم يم

خدايه څه شول هغه ښکلي ښکلي خلک
په ظاهر په باطن سپين سپېڅلي خلک

اتلس کاله وړاندې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د لومړي کال د لومړي سمستر صنف ته یوه خندانه څېره چې انرژي، حوصله مندي او د وجود مضبوطیا یې د کلک هوډ استازي کوله د صنف پر درشل پښه کېښوده، ځان یې زغم را معرفي کړ، احمدشاه زغم، د لیکوالۍ او بیا وروسته فولکلوري ادب مضمونونه یې را ښوول، خو تصوف یې د ژوند تومنه ګرځولې وه، د اماره نفس شيطان يې د سالکيت د هستۍ پر مراندو ترلی و، خو ژوند یې پر فنا في پير نه، بلکې فنا في الله پر پلیونۍ روان و، تل به یې وچولی پرانیستی او خوله به یې خندانه وه، له محصلینو سره ملګری او همراز و، کله نا کله به یې نجونو ته یو هلک نیم هم په ګوته کاوه، په ظاهره به یې په خندا دا خبره کوله، خو د ژوند له حقیقتونو څخه یو حقیقت هم همدا و، د استاذۍ ترڅنګ یې کله نا کله د ژورنالیزم مراندې هم را کاږلې او چې کله مې په علومو اکاډمۍ کې د کابل مجلې خپرنیز چار علمي سمبالښت کاوه، نو د ده علمي مقالو به یې پاڼې لا رنګینې کړې، د ماسترۍ پر مهال مې بیا ډېره موده دغه مهربانه څېره لارښودې وه، چې د زړچاڼ اثر تومنه مې هم د ده د هڅوني پایله بولم، خو څه وخت وروسته یې له کابل مجلې سره اړيکې ترينګلې شوې، په لامل یې نه پوهېدم د پوهاوي لپاره مې یې د لیدلو هڅه پیل کړه، خو ژېړې زبېښلې څېرې یې هر څه روښانه کړل، خو ډېر کلونه وروسته بیا هم د کابل پوهنتون د ادب په کور کې مې دیدن وشو، خو دا ځل د لاس په راکولو سره یې پوه شوم، چې د مهربانه لاس پر ځای مې وچ لرګی په لاس کې نیولی، مهرباني په کې وه، خو نور هغه پخوانی نرمښت په کې نه و.

په کار وه چې په داسې حال کې مو د ده لاس نیوی کړی وای، خو قسم په خدای پر هر ځل لیدلو یې دومره ځورېدم او خفه کېدم چې مه یې کوه پوښتنه او دا حال د ډېرو ملګرو و، په همدې پار د استاد حال ورځ تر بلې بدلیده او بدلیده آن تر دې چې نن یې د خواشینونکي خبر شاهدان یو، استاد په سلګونو او که مبالغه ونه کړم په زرګونو شاګردان د ادب او فرهنګ په ډګر کې وروزل، په لسګونو کتابونه او مقالې یې وکښلې او په لسګونو او سلګونو راپورونه یې وړاندې او د حقیقت خوا یې ونیوله. باري سبحانه د خپلو کړو خدمتونو له امله یې جنت ځای کړې او د قبر سفر او منزل یې اسانه کړې. امين يا رب العالمين.»

قيوم قويم:

«مرحوم استاد زغم یکی از غنیمت های بزرگ علمی وفرهنگی بود وفات ایشان یک ضایعه ی جبران نا پذیر است خداوند متعال جایگاهش را بهشت برین بگرداند به اهل خاواده اش ابراز تسلیت دارم روحش شاد وخاطراتش جاویدانه باد!»

استاد زغم د ژوند او ناروغۍ ډېر رنځونه وګالل، خو تر پایه ورته تسلیم نه شو. د ژوند له ناخوالو سره يې مبارزه وکړه، له ناروغۍ سره د جهان پهلوان په څېر وجنګید، د درملنې په پار يې چې څه له لاسه کېدل، وېکړل، خو...

پوهاند صاحب زغم مو اوس له لاسه ووت، ځای به يې د فرهنګي کورنۍ په منځ کې تش وي، خو د هېرېدلو نه دی، موږ به يې د يو صادق، دانشمند او خدمتګار ملګري په ډول تل په یاد ولرو.

زه د پوهاند صاحب زغم کورنۍ، دوستانو، د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې همکارانو او د فرهنګ لويې کورنۍ ټولو غړو ته د تسلیت مراتب وړاندې کوم.

روح يې ښاد،

یاد يې تلپاتې!

www.dawatmedia24.com